# مسیر

ورځپاڼه

نوی لید، نوی مزل

www.maseerdaily.af


سه شنبه د ۱۳۹۹ د تلې ۲۲مه | د ۲۰۲۰ د اکتوبر ۱۳مه | ۶۱۰مه ګڼه


2 017550 139621

## څېره

۴ مخ

### لوئیز ګلوک



ګلوک په ادبي برخه کې ډېرې جایزې ګټلې دي. د پولیتزر جایزه، د انساني علومو مډال، د کتاب ملي جایزه، د کتابونو د منتقدانو د حلقې جایزه او اوس دا ده تازه په تازه د نوبل جایزې ګټونکې هم شوه.

### کرنې وزارت: روان کال په کندوز کې ۲۵۶ زره ټنه وریجې تولید شوې دي



د کندوز د کرنې او مالدارۍ ریاست د کرنیزو چارو امر عبدالمجید نافذ وایي، روان کال په دغه ولایت کې څه باندې ۵۴ زره هکتاره ځمکه شولې کرل شوي او ورځخه ۲۵۶ زره ټنه وریجې راټولې شوې دي.

د نوموړي په وینا، سږ کال د اوبو زیاتوالی او د مناسبې هوا موجودیت د شولو د حاصلاتو د زیاتېدو سبب شوی دی.

د هغه په خبره، شولې د کندوز د مرکز د اړوندو سیمو سربېره، په امام صاحب، خان‌اباد، علي‌اباد، چاردرې، اقتاش، ګل‌تپې، کلباد او قلعه‌زال ولسوالیو کې کرل کېږي.

د کندوز کروندګر هم وایي چې د شولو حاصلات زیات دي، خو په بازارونو کې د وریجو ټیټې بیو یې حاصلات کم ارزښته کړي دي. د خان‌اباد ولسوالۍ د چارتوت په سیمه کې د شولو یو کروندګر عیسی خان وایي، د وریجو لپاره د مارکېټ نشتوالی د دې سبب شوی چې کروندګر پرې شوی لګښت هم پوره نه کړي.

# د لښکرګاه جګړه؛

## خونړیو جګړو وېره خپره کړې، سلګونه کسان د کورونو پرېښودو ته اړ شوي



۳

د سولې په فضا کې د جګړې شدت

۲ مخ

د چین ولسي جمهوریت یو اویا کلن مزل

۲ مخ

دوه ځل ناکامي

۳ مخ

### سرچینې: خلیلزاد د سولې له مذاکراتي ټیمونو غوښتي چې ژر تر ژر دې د طرزالعمل اړوند خبرې نهایي کړي

د راپورونو له مخې، د افغان سولې لپاره د امریکا ځانګړي استازي زلمي خلیلزاد یو ځل بیا د افغان دولت او طالبانو له مذاکراتي ټیمونو سره لیدلي دي.

خلیلزاد دا لیدنې په داسې حال کې کړي چې له تېرو شاوخوا دوو اونیو راهیسې د یادو مذاکراتي ټیمونو ترمنځ هیڅ ډول ناسته نه ده شوې.

د افغان دولت د مذاکراتي ټیم یوه غړي ډاکتر طالب ویلي چې ورمه ورځ ناوخته خلیلزاد له افغان دولتي پلاوي سره لیدلي دي.

هغه زیاته کړې چې په دې ناسته کې د بین الافغاني مذاکراتو د پیل پر وړاندې پر خنډ او ځنډ، اوربند او د تاوتریخوالي د کمولو په اړه خبرې شوې دي. خو د مذاکراتي ټیم یوه بل غړي چې د نوم له اخیستو یې ډډه کوله، پژواک ته ویلي چې له خلیلزاد سره په ناسته کې د دولت مذاکراتي ټیم او ټولو غړو شتون درلود.

د سرچینې په وینا، خلیلزاد وویل چې تر دې ناستې مخکې یې له طالبانو سره هم ناسته کړې او پر دواړو لوریو یې غږ وکړ چې هر څه ژر دا بن بست ختم او مذاکرات پیل کړئ. سرچینه وایي : «خلیلزاد په ډاګه کړه چې دواړه لوري افغانان دي او باید خپلې ستونزې په خپله هوارې کړئ، امریکا پکې لاسوهنه نه کوي.» د دولتي مذاکرتي ټیم دغه غړي ویلي چې دوی خلیلزاد ته په ډاګه کړې چې خبرو ته اماده دي، طالبانو ته یې هم خپل وړاندیزونه سپارلي، خو هغوی ځواب نه ورکوي. د هغه په وینا، خلیلزاد ویلي چې اوسمهال دایمي اوربند ناشونی دی، خو ممکن په خبرو کې پر اور کم باندې موافقه وشي.

### په افغانستان کې د امریکایي ځواکونو حضور په شرایطو پورې تړلی دی



۲ مخ

### رحماني: با آغاز برنامه میثاق امنیتی وضعیت امنیتی کابل بدتر شده است



رئیس ولسی جرگه، برنامه «میثاق امنیتی» را ناکام خوانده و گفت که با تطبیق این برنامه، وضعیت امنیتی کابل بدتر شده است.

این در حالیست که وزارت امور داخله در ۲۴ اسد سال روان، برنامۀ ایجاد «میثاق امنیتی» را اعلام کرد و هدف آن را تامین بهتر امنیت و مبارزۀ مؤثر در برابر جرایم و جنایات از طریق بسیج مردمی، خواند. میر رحمان رحمانی رئیس ولسی جرگه، در نشست دیروز این جرگه به دنبال شکایت شماری از اعضای این جرگه از بدتر شدن وضعیت امنیتی شهر کابل به خصوص افزایش جرایم جنایی در این شهر، گفت که با عملی شدن برنامه میثاق امنیتی و مداخله مستقیم گروه رضاکار این برنامه، وضعیت امنیتی در کابل بدتر شده است.

وی افزود: «یک بار دیگر بر رئیس جمهور صدا می کنیم که نهادهای قانونی را مورد حمایت قرار دهد، با برنامه های ناکام و مهره های ناکارا نمی توانیم امنیت کابل را تامین کنیم.»

عبدالقیوم سجادی نماینده مردم غزنی در ولسی جرگه گفت که کابل به «شهر وحشت» مبدل شده است و افراد مسلح، به شکل گروهی و انفرادی، دست به جرایم می زنند.

وی افزود: «همه روزه ما شاهد از دست دادن جوانان خود به خاطر یک مبایل و چند صد افغانی هستیم، این وضعیت تا به کی ادامه پیدا می کند؟ باید اقدامات جدی روی دست گرفته شود.» شماری از اعضای دیگر این جرگه نیز وضعیت امنیتی کابل را نگران کننده خوانده و خواستار توجه جدی مسئولان امنیتی، به امنیت کابل شدند.


Aksos

اکسوس کتابپلورنځی

Aksos Book Store

Add a Book to Your Life

دهبوریو پارک جنوبي دروازې ته مخامخ

0798-98-9696, 0202504652

aksosbookstore@gmail.com

www.aksosbookstore.af

Aksos Book Store

Aksos Book Store

دریـــځ

## د سولې په فضا کې د جګړې شدت

په هلمند کې سختې جګړې روانې دي. طالبانو پر لښکرګاه ښار بریدونه کړي دي او ډېرې سیمې یې لاندې کړې دي. حکومتي ویندویان وایي چې طالبان یې بېرته په شا کړي دي او د هغوی د پرمختګ مخه یې نیولې ده. دواړه لوري یو بل ته د درنې مرګ ژوبلې د اړولو ادعا هم کوي. له دې سره هممهاله ملکي وګړو ته هم زیانونه اوښتي او ډېرې کورنۍ د جګړو له وېرې د خپلو سیمو پرېښودو ته اړ شوې دي. د ناټو او امریکایي ځواکونو له خوا هم پر طالبانو هوایي بریدونه شوي او د دغو ځواکونو مشر ویلي، چې طالبان باید یرغلیز بریدونه ودروي، ځکه چې په وینا یې دا چاره د دوحې د توافق خلاف ده.

په هلمند کې جګړې په داسې وخت کې زور اخلي چې په دوحه کې د افغان حکومت او طالبانو پلاوي هڅه کوي، څو پر اصولو او کړنلاره شته اختلافونه حل کړي او توافق ته ورسیږي. د سولې د خبرو له پیل سره اورکم او اوربند هم یوه اساسي غوښتنه ده چې طالبان یې منلو ته تیار نه دي. اوس ښکاري چې نه اورکم او نه هم اوربند شته؛ بلکې جګړه زیاتیږي او په دې سره په طبیعي ډول د سولې پروسې ته زیان اوړي. که طالبان دا فکر کوي چې د جګړې له لارې به پر حکومت فشار راوړي او ورسره به ځینې سیمې لاندې کړي، ښایي دوی دغه هدف ته ورسیږي؛ خو ورسره سم به ځینې داسې زیانونه وکړي چې جبرانول به یې بیا ورته ستونزمن وي. په داسې حال کې چې طالبانو له امریکا سره اوربند کړی دی او پر هغوی هېڅ برید نه کوي او د سولې خبرې هم روانې دي؛ خو له دې سره سره د جګړې زیاتول یوازې همدا پیغام رسوي چې دوی د خبرو اترو پر ځای جګړې ته ترجیح ورکوي او له خبرو سره سره غواړي چې پر حکومت نظامي فشار هم راولي. دا چاره به طالبان د خلکو له سترګو وغورځوي او هغه شعارونه او ارزښتونه به له دوی سره پیکه شي، چې دوی تر اوسه پورې خلکو ته بیانول.

دا سمه ده چې د سولې په برخه کې خنډونه شته او له بده مرغه لوی لامل یې هم حکومتي واک غوښتونکي مشران دي، خو دا د دې مانا نه لري چې طالبان له دغه دریځه د حکومت د اړولو لپاره زور او ځواک وکاروي. په دې زور او ځواک کې نه حکومتي مشرانو او نه هم د دوی کورنیو ته زیان رسیږي؛ بلکې لوی زیان یې افغان ولس ته دی. له بله اړخه نه دا منطقي طریقه ده او نه هم افغاني چې په داسې حالتونو کې دې له زور او ځواک څخه کار واخیستل شي.

اوس وخت د سولې دی، د سولې د خبرو پر اصولو او اجنډا بحث روان دی، ښایي توافق هم وشي، خبرې به پیلېږي، پرمختګ به کېږي او بالاخره به دې جګړې ته حللاره پیدا کېږي، نو په داسې وخت کې د جګړې زیاتول او ګرمول د هېڅ لوري په خیر نه دي. اوس پکار ده چې له نرمۍ کار واخیستل شي، پر خبرو او تفاهم ټینګار وشي او ټوله هڅه باید دا وي چې د افغان وینه ودرېږي او ټول افغانان په سوله او ثبات کې ژوند وکړي.

# د چین ولسي جمهوریت یو اویا کلن مزل



نقیب الله مل

په دې لنډه د څو کرښو لیکنه کې ناممکنه ده چې د چین ولسي جمهوریت یو اویا کلن مزل دې راټول او پرې خبرې وشي، هڅه کوم چې لیکنه اوږده نه شي او په لنډو څو ټکو کې د چین ولسي جمهوریت انقلاب د یادونې په لړ کې یوازې یو څو مواردو ته لنډه کتنه او اشاره وکړم، هغه هیواد چې په لومړیو وختونو کې د ځینو هیوادونو له سختو فشارونو سره مخ و، قصداً ګوښه او منزوي کړی شوی و، خو چین یې پر وړاندې کلک پولادي مقاومت وکړ، هېڅ زور او فشار ته یې سر ټیټ نه کړ، د زور او فشار کړی یې په تدبیر او د سیاست په هنر سره ماتې کړې او له منزویتوب او ګوښه‌توب یې ځان وایسته.

د نړۍ، سیمې او ملګرو ملتونو په سازمان کې د خپلې څوکۍ حق دوباره تر لاسه کول، د امنیت شورا دایمي غړیتوب ته رسېدل، د نړۍ بېوزلي، ګڼ میشتي هیواد څخه پر شتمن، ځواکمن، د علم او تخنیک په مرکز بانديې بدلېدل یې ستري کارنامې دي، دا اسانه او وړیا نه دي تر سره او تر لاسه شوي، تر شا یې د هغو رهبرانو، مشرانو مبارزې، هڅې او هلې ځلې اساسي ځای لري چې شپه او ورځ د خپل هیواد او ولس د ښېرازۍ په موخه کارونه کوي، یوه لحظه یې د هیواد او ولس له ښېګڼې او بقا پرته د بل څه په اړه فکر ته ځای نه دی ورکړی.

د اکتوبر لومړۍ نېټه د چین ولسي جمهوریت د تاسیس له یو اویایمې کلیزې سره برابره وه، دا ځانګړې ورځ په چین کې د ستر ارزښت لرونکې ده، په دې ورځ ټول چین په تېره بیا د پلازمېنې بېجینګ د تیان أن من مشهور ډګر هر کال د نمانځنې د ځانګړو مراسمو د صحنو شاهد وي، څو اونۍ وړاندې د ښار په دې مرکزي میدان کې د چمتووالي ترتیبات نیول کیږي. د تیان أن من په ډګر کې هر کال د ملي جشن په مناسبت د بېلابېلو تازه ګلونو یو لوی ګلدان له یو ځانګړي نوم او پیغام سره جوړیږي، هغه چې ډېر جالب او د پاملرنې وړ وي، دا دود له ۱۹۸۶ کال څخه د ملي جشن برخه دی، د سږني ګلدان نوم ((وطن ته مبارکي)) دی.

د دود له مخې د ملي جشن له ځانګړې ورځې پرته هر سهار وختي د تیان أن من په ډګر کې عام خلک د خپل ملي بیرغ د پورته کولو مراسمو لیدلو ته سهار وختي ځانونه رسوي، دا مراسم د چین ازادي ګټونکي پوځ د ملي ګارد یوه ځانګړې وتلې روزل شوې قطعه یې په دقت، تعظیم او احترام تر سره کوي، د وطنپالنې احساساتو د په زړه پورې انځور ښودنه کوي، له وطن سره د ولس د مینې او عشق په زړه پورې کیسې تراشي، په زړه پورې جالبې صحنې یې ژوندۍ د ټلوېزیون په پردو باندې ښودل کیږي.

په چین کې هر پنځه کلونه وروسته د ملي جشن په ویاړ د رسم ګذشت ستر درانه مراسم تر سره کیږي. هغه چې پوځي ننداري پکې مهمه برخه جوړوي، له دې علاوه د ډېرو نورو برخو په زړه پورې نمایشونه، د ملکي، اقتصادي، صنعتي، ټکنالوژۍ، د زراعتي برخو د پرمختګونو د لاسته راوړنو نمونې پکې وړاندې کیږي کوم چې د یو هیواد د اقتصادي ودې او پرمختګ اساس جوړونه کې ستره ونډه لري، په دې توګه ترې ستاینه او مننه کیږي، د ولس او حکومت لخوا د بزګرانو او کارګرانو هڅونه کیږي.

چین د خپل پرمختګ مزل څو برابره چټک او ګړندی روان ساتلی دی، د پرمختګ ګامونه یې په تاریخ کې په نړۍ کې نمونه او بېلګه دي، د شهکارونو ریکارډونه یې په نړۍ کې عجایب بلل کیږي، د اقتصاد، تولید، سوداګرۍ، د ساینس، ټکنالوژۍ، د صنعتونو د نوښتونو مرکز ګرځېدلی دی، هغه چې اغېز او تاثیر یې په نړۍ کې د پام وړ ځای تر لاسه کړی دی.

د کرونا وبا پر وړاندې د مبارزې او مقابلې په ډګر کې موږ ولیدل چې لوی طاقتونه، پرمختللي هیوادونه څومره ژر ناهیلي، ستړي او بې وسه شول، متاسفانه تر اوسه یې ننګونې په نړۍ کې لا شته او ورسره لاس او ګریوان پاتې دي؛ خو د چین مبارزه او مقابله اغېزمنه وه او ده، په ډېره کمه موده کې یې د وبا د مهارولو او کنټرولولو پرېکنده لارې چارې وموندلې او عملي یې کړې، په دې توګه یې د خپلو خلکو ساتنه او د مالي بشري تلفاتو د زیانونو مخنیوی په خپل وخت وکړ. دا هغه څه دي چې د دولت هغه ژمنه رښتیا کوي چې په اثبات رسوي د خلکو ژوند تر هر څه ورته ارزښتمن او لومړیتوب لري.

د سږ کال اکتوبر لومړۍ نېټه د چین ولسي جمهوریت له ۷۱یمې کلیزې سره برابره ده، په سږنۍ نمانځنه کې تمرکز تر ډېره په زړه پورې ورځنیو او شپنیو هنري ننداړو باندې و، د یو سوکاله، نېکمرغه او خوشاله ولس هیلې ترې له ورایه ځلېدې، د ولسي وګړو له ولولو، خوښیو، له شور، شوق او ذوق د تیان أن من میدان فضا ډکه او رنګینه وه.

د چین دولت رییس شي جین پینګ ملت ته د چین ولسي جمهوریت د یو ۷۱یمې کلیزې مبارکي وړاندې کولو په ترڅ کې په تېرو ۷۱ کلونو کې د چین پرمختګ، لاسته راوړنې، د چین ملت د فرد فرد زیارونه او هلې ځلې وبللې، ((زه نېکمرغه یم چې تل ستاسو په منځ کې پاتې شوی یم، تل مې ستاسو په منځ کې ژوند او کار کړی دی، ستاسو له منځه راپورته شوي یم، تل به ستاسو په څنګ او ننګه کې اوسم.))

له ۷۱ کلونو راهیسې چین د کمونېست ګوند تر واکمنۍ او لارښوونې لاندې د ټولو ۵۶ قومونو وګړي تر یو نوم او بیرغ لاندې متحد او یو موټی کړي دي، اقتصادي، تخنیکي، ټکنالوژیکي او د صنایعو بې شمېره شهکارونو، ستري کارنامې یې پنځولې او وړاندې کړې دي.

د چین ولسي جمهوریت د خپل تاسیس په لومړیو کې داسې یو هیواد چې له نورو ننګونو پرته د بېوزلۍ سخته مبارزه یې په مخ کې لرله، د خپل ولس او هیواد چوپړ ته کلکه ملا وتړله، ((زه دې وچ هډوکي شپېلم، خو ملت مې دې سلطان وي))، په دې توګه یې وجدانونه او ضمیرونه ارامه دي، ځکه چې ملت او هیواد یې نن ارامه دی، پر خپلو پښو ولاړ او پر ځان بسیا دی. له هر اړخه د یوې نسبتاً نېکمرغه ټولنې جوړولو او د چین ملي احیا او پرمختګ ارمان تر سره کولو ته یې ملا تړلې ده، په ۱۹۵۳ میلادي کال کې د پنځو کلنو انکشافي پلانونو لړۍ یې پیل کړه، دا لړۍ بیا په ۱۹۷۸ میلادي کال د ډنګ شیاو پینګ د واکمنۍ پر مهال په چین کې د اصلاحاتو، ورخلاصون د لړۍ په رڼا کې انکشافي او اقتصادي پنځو کلنو پلانونو ته لا پسې قوت او پراختیا ورکړه، د چین اوسنی پرمختګ او لاسته راوړنې تر ډېره له همدې سره تړلي پاتې کیږي، نږدې دا ټول د ۶۷ کلونو په ترڅ کې د پنځو کلنو پلانونو نتیجه او ثمره ده، چې پر مټ یې په سختو ستونزو باندې د بریا لاسته راوړلو لپاره زمینې مساعدې کړې دي، ډېر ناشوني کارونه یې پر مټ تر سره شوي دي، د ولس د ارمانونو او هیلو لپاره یې بې شمېره فرصتونه جوړ او ایجاد کړي دي، په دې لړ کې د بېوزلۍ له منځه وړل او د نسبتاً هوسا شتمنې ټولنې جوړولو اساسي هدف درلودل وو، چې د چټکو او اغېزمنو کارونو په ترڅ کې دا موخه په کمه او لنډه موده کې تر وروستي پړاوه رسول شوې ده، نه یوازې دا چې د بېوزلۍ په له منځه وړلو توانېدلی، بلکې د نړۍ دویم لوی اقتصادي ځواک ګرځېدلی، د سوداګرۍ او صادراتو په لومړي سر او کرښه کې ولاړ دی.

تر اوسه یې څه باندې ۷۵۰ میلیونه وګړي له بېوزلۍ څخه ایستلي دي، ۹۰ سلنه بشري فقر یې له منځه وړی دی. چین د غربت، بېوزلۍ کمول او له منځه وړل یې د ملي سرتاسري پروګرامونو او پلانونو په چوکاټ کې په نښه او ټاکلي دي. په بشپړ مکلفیت او مسوولیت سره یې په ترتیب او ګام په ګام تطبیق کړي دي، په نړۍ کې د لوی نفوس لرونکي هېواد په توګه یې د روزګار لپاره اسانتیاوو، شرایطو او زمینو مساعدولو باندې تمرکز ساتلی دی. د سترو بهرنیو پانګو جلبولو ته د زمینو برابرولو، د غوره امتیازاتو، امکاناتو او اسانتیاوو وړاندې کولو کې بې مثاله دی. د لویو لارو، ریل پټلۍ منظمه شبکه یې غزولې ده، هغه چې لارې په اقتصادي او سوداګریز سیسټم کې څومره اهمیت لري، په بدن کې رګونه چې د وینې په جریان کې رول لري، دغسې د تګ راتګ لارې او کرښې هم کټ مټ دي، د اساسي تاسیساتو بې شمېره مرکزونه یې د چوپړتیاوو په وړاندې کولو شپه ورځ بوخت دي. مخابرات، انټرنېټ او 5G ټکنالوژۍ هغه څه دي چې نن سبا په چین کې عادي او د عامېدو په حال کې دي. د نویو ساینسي موندونو پلټنو په لړ کې یې فضا ته په سپوږمۍ او مریخ کې په کهکشان کې د ستورو څېړنو ته مخه کړې ده، څو ځلې یې د سپوږمکۍ او تحقیقاتي ماشینونو بریالۍ استونه کړې ده، ژر به په سپوږمۍ کې تحقیقاتي مرکز جوړول تر سره او بشپړ کړي.

د فساد پر وړاندې مبارزه یې، په قاطعیت او جدیت سره تر سره کړې ده، درغلګرو او مفسدو ته سخته جزا، هغه څه دي چې د ښې حکومتوالۍ جوړولو اساس ټینګولو کې یې اغېز درلودلی دی، دا اتومات پخپله د فساد جرړې وچوي او له منځه یې وړي، د نظام اډانه ترې پاکیږي، په ټولنه کې د برترۍ او کمترۍ احساس له منځه وړلو کې مهم تاثیر او ونډه لري.

د نورو قوانینو تر څنګ، سږ کال د مدني قوانینو غني ټولګه چې د ډېرو حقوقپوهانو او قانونپوهانو د څو کلنو زیارونو او کوښښونو په نتیجه کې جوړه او بشپړه شوې ده، د چین ملي ولسي کانګرس تایید او تصویب کړې ده، دوې نیمې میاشتې وروسته یانې د ۲۰۲۱میلادي کال په لومړۍ ورځ به نافذه او پلې شي. دا د مرفع، هوسا، نېکمرغه ټولنې جوړولو او د وګړو د ستونزو د حل لپاره یو بل ډېر مهم او ګټور اقدام دی، د اتباعو حقوق به د قانون په رڼا کې لا واضح او تامین شي. د قانون له مخې ټول میشت قومونه او مذهبونه د مساوي، برابرو حقوقو او امتیازاتو لرونکي دي. په دې توګه د هغو کړیو د پلمو مخنیوی او لاسونه به لنډ شي، چې اوبه خړول او پکې د کبانو نیول یې عادت دي.

په چین کې ۲۰۲۰ کال اهمیت لري، دا کال د چین د دیارلسم پنځه کلن پرمختیایي پلان له وروستي کال سره برابر دی، ټاکل شوې ده چې په دې کال کې بشري فقر صفر شي، په دې سره به د شتمنې ټولنې جوړولو موخه بشپړه شي، په دې توګه چین د ملګرو ملتونو د ۲۰۳۰ کال د پرمختګ او فقر له منځه وړلو ټاکلي مودې څخه لس کالونه وړاندې د هدف پوره کولو ته رسیږي او د لومړي سل کلن مبارزاتي هدف پر پوره کولو باندې به وتوانیږي. په چین کې یوازې د اوو کلونو په ترڅ کې یانې له ۲۰۱۲ میلادي کال څخه تر ۲۰۱۹ میلادي کال پورې ۹۰ میلیونه وګړي له فقر او بېوزلۍ څخه ایستل شوي دي. د نړیوال بانک ارزونه او راپور تاییدوي چې د بېوزلۍ پر وړاندې د چین پروګرامونه ډېر اغېزمن او ګټور دي.

که څه هم د کرونا ناڅاپي وبا کارونه لږ او ډېر له خنډ او ځنډ سره مخ کړل؛ خو د فقر او بېوزلۍ پر وړاندې د چین مبارزه د پخوا په څېر روانه ده، هغه موخه چې د غریبو، ضعیفو او ناداره وګړو برخلیک جوړولو او بدلولو سره تړلې ده، پر ځای او نه ده بدله شوې، په دې اړه هلې ځلې په قوت سره روانې دي. هغه باور او هدف لا هم پر ځای دی چې سږ کال د بېوزلۍ صفر کولو لپاره ټاکل شوی دی، د ټولو بېوزلو اساسي او لومړنۍ اړتیاوې به تامین او پوره شي.

د چین ولسي جمهوریت سیاست او تګلاره د دوستۍ او متقابل باور په جوړونه باندې بنا دي، پر همدې اساس د خپل بهرني سیاست کره وړه تنظیموي او پر مخ یې وړي. د اوو لسیزو په ژوند کې یې هغه که ګاونډیان دي یا د سیمې هیوادونه او یا نړۍ ده او یا هم نړیوالې اړیکې دي؛ ټول د متقابل احترام او د دوستانه اړیکو سیاست پر محور فعاله ډیپلوماسي چلولې ده، د بهرنیو اړیکو تګلاره، د ډیپلوماسۍ دستګاه او د اړیکو چینلونه یې د دوستۍ پر اصل باندې ولاړ ساتلي دي، له ټولو هیوادونو سره هغه که لرې دي که نږدې، د دوستۍ او ملګرتیا پالنې ته یې ارزښت ورکړی دی، د ګډ برخلیک ټولنې جوړولو لومړی غږ یې پورته کړی دی. ټول هیوادونه ځواکمن دي او که کمزوري، لوی دي او که کوچني، باید د برابرو حقوقو لرونکي اوسي، دا هغه څه دي چې د ټولې نړۍ هیله او غوښتنه ده، ټول یې مل او ملاتړي دي.

د نړیوالې سولې او پرمختګ په اړه روښانه او څرګند لیدلوری لري او پر ټولشموله او معقولو د باور وړ عملي کېدونکو پر پراخو نظرونو سمباله طرحه لري، چې د ټولو لپاره ګډه، ډاډمنه، سوکاله او روښانه راتلونکې پکې نغښتې ده.

# د لښکرگاه جگړه؛

## خونړیو جگړو وېره خپره کړې، سلگونه کسان د کورونو پرېښودو ته اړ شوي



د هلمند زرگونه کورنۍ د طالبانو د بریدونو له امله د خپلو مېنو پرېښودو ته اړ شوې دي او لا هم په دغه ولایت کې خلک په وېره او اندېښنه کې ژوند کوي. له تېرو څو ورځو راهیسې د هلمند د مرکز لښکرگاه شاوخوا امنیتي وضعیت سخت خراب دی، طالبانو پر مرکز برید کړی دی او د دغه ښار څلورمه امنیتي حوزه د دوی په لاس کې ده. له مرکز کابله هم د دغه جگړې د کابو کولو لپاره تازه دمي سرتېري تللي دي؛ خو په خبره یې، د ملکیانو د خوندیتوب لپاره یې عملیات ورو روان دي. بلخوا ناټو او امریکایي لوري هم د طالبانو دغه برید غندلی دی او د امریکا هوایي ځواکونه د افغان پوځ ملاتړ ته ورغلي دي.

وسله والو له څو ورځو راهیسې د هلمند د مرکز لښکرگاه شاوخوا نا امنه کړې وه، تر دې چې ورمه ورځ یې په مرکز کې پر څلورمه امنیتي حوزه برید وکړ. دغه حوزه یې ونیوله او خپلو جگړو ته یې ادامه ورکړه. له دې سره جوخت افغان ځواکونو هم د دې جگړې د کنټرول لپاره پر بریدونو او عملیاتو لاس پورې کړ. له کندهاره او مرکز هم هلمند ته تازه دمي سرتېري ورسېدل او پرون ناټو ځواکونو هم پر طالبانو هوایي بریدونه کړي دي. د هلمند ځایي چارواکي وایي چې په عملیاتو کې یې تر ۱۷۰ پورې طالبان وژلي دي، خو افغان سرتېرو ته د اوښتو تلفاتو په اړه یې څه نه دي ویلي.

بلخوا په مرکز لښکرگاه کې مېشت خبریالان وایي چې په تېرو ورځو کې نږدې ۴۵۰۰ کورنۍ د دغه ښار په بېلو ځایونو کې د جگړو له وېرې د خپلو مېنو پرېښودو ته اړ شوې دي. د دوی په خبره، هلمندي وگړو خپلې کډې په موټرونو کې بار کړې دي او په ښار کې د ځای ځایگي د پیدا کولو په لټه کې دي. دوی د دغو کورنیو لپاره د بېړنۍ مرستې غوښتنه کړې ده.

ولسمشر غني بیا د هلمند له والي سره په ټلیفوني خبرو کې ویلي چې طالبان به د دغه برید ستره بیه پرې کړي. د هلمند والي پر خپله رسمي فیسبوکپاڼه لیکلي چې ولسمشر غني ورسره ټلیفوني خبرې کړې دي او هلمند ته یې د تازه مرستو د لېږلو ژمنه کړې. غني ویلي: ((طالبانو ته پکار ده چې تاوتریخوالی کم کړي، دوی ته به پر هلمند برید ډېر گران تمام شي)).

بلخوا په افغانستان کې د امریکایي او ناټو ځواکونو عمومي قومندان جنرال سکاټ مېلر پر مرکز لښکرگاه د طالبانو برید د دوحې د هوکړې خلاف عمل بللی دی. نوموړي په خپلو تازه څرگندونو کې ویلي چې طالبان دې ارو مرو تاوتریخوالی کم کړي، جگړې دې ودروي او د هوکړې خلاف دې خپلو جگړو ته شدت نه ورکوي. هغه ټینگار کړی چې دواړې خواوې باید د دوحې هوکړه عملي کړي. په افغانستان کې د امریکایي ځواکونو ویاند هم ویلي چې دوی د افغان ځواکونو په ملاتړ په هلمند کې پر طالبانو بریدونه کړي دي. د هغه په خبره، امریکایي ځواکونه په هغو سیمو کې د افغان ځواکونو د ملاتړ حق لري، چې طالبانو په هغه سیمه کې د دوحې هوکړه نقض کړې وي.

کورنیو چارو وزارت او د ولسمشر ویاند بیا ویلي چې افغان ځواکونه په هلمند کې پیاوړي دي او طالبانو ته یې درانه تلفات اړولي. د ولسمشر د ویاند صدیق صدیقي په خبره، ډېر ژر به دغه ډله په هلمند کې ماته شي.

ځینې راپورونه وایي چې په هلمند کې له ځینو سیمو افغان سرتېري د طالبانو له لوري ایستل شوي او یا نیول شوي؛ خو افغان حکومت وایي چې دوی شاتگ کړی دی. په هلمند کې خپاره شوي انځورونه ښیي چې د افغان ځواکونو پاتې شوي نظامي تاسیسات د خلکو له لوري چور او نړول کېږي. له دې سره د هلمند برېښنا ریاست وایي چې وسله والو طالبانو د برېښنا سب سټېشن ۱۵ ساتونکي او دوه فني کارکوونکي له ځان سره بېولي دي. دوی همدا راز وایي چې طالبانو د سب سټېشن توکو ته اور ورته کړی دی او تخنیکي وسایل یې له منځه وړي دي. طالب ویاند بیا دا ادعا رد کړې ده.


## مارک میلي: په افغانستان کې د امریکایي ځواکونو حضور په شرایطو پورې تړلی دی

د امریکا د پوځ لوی درستیز مارک میلي ویلي، په افغانستان کې د امریکایي سرتېرو شتون په شرایطو پورې تړلی دی.

نوموړي له اېن پي ار وېبپاڼې سره په خبرو کې ویلي چې په افغانستان کې د امریکا شاتگ به په شرایطو پورې اړوند وي.

هغه د امریکا د ملي امنیت سلاکار، سټیفن اوبراین د خبرو په غبرگون کې چې ویلي یې وو، د نوې زېږدیز کال په لومړیو کې به په افغانستان کې خپل سرتېري تر ۲۵۰۰ پورې راکم کړي، څرگنده کړې: «هر څوک کولی شي چې هر ډول صلاح بولي حدس ووهي، خو زه نه غواړم چې د حدس او گمان په تړاو خبرې وکړم.»

د میلي په خبره، هغه غواړي چې د شرایطو او پروگرام پر اساس چې ترې مالومات لري او په اړه یې د امریکا له ولسمشر، ډونالډ ټرمپ سره خبرې کړې، وغږېږي او په کره توگه حالات وڅېړي او بیا د سرتېرو ایستلو په تړاو پرېکړه وکړي.



د امریکا د پوځ لوی درستیز زیاته کړې: «موږ یو پروگرام لرو، ځینې غوراوي مو له ولسمشر سره شریک کړل. زه نه غواړم د راتلونکي لپاره په مشخص شمېر خبرې وکړم.»

هغه زیاته کړې: «موږ د امریکا گټو ته په کتو، د جگړې مسوولانه پای لپاره پروگرام لرو. څنگه چې پوهېږئ، موږ د امریکا متحده ایالاتو دولت د فبروري په ۲۸ مه (له طالبانو سره) هوکړه لاسلیک کړه.»

د ده په خبره، هغه په وخت کې چې امریکا له طالبانو سره هوکړه وکړه، په افغانستان کې زموږ د سرتېرو شمېر کابو ۱۲ زره تنه وو.

دغه امریکایي جنرال په افغانستان کې د مېشتو ځواکونو اوسنی شمېر له ۸ زرو ۵۰۰ تر ۶۰۰ بولي. هغه زیاته کړې: «موږ پر پلان بوخت یو چې دغه شمېر ۴ زره او ۵۰۰ تو ورسوو. تېره اونۍ ټرمپ پر ټویټر په یوه پیغام کې لیکلي وو چې موږ په افغانسان کې لږ پاتې نارینه او ښځینه سرتېري چې لرو باید کریسمس ته یې کورته را وغواړو».

د ټرمپ له دغه ټویټ څو ساعته وروسته د امریکا د ملي امنیت سلاکار، سټیفن اوبراین ویلي وو چې د راتلونکي زېږدیز کال په لومړیو کې به په افغانستان کې خپل سرتېري تر ۲ زرو او ۵۰۰ پورې راکم کړي.

هغه زیاته کړې چې اوسمهال په افغانستان کې له ۵ زرو کم سرتېري لري او د هغه په خبره، دا شمېر په ۲۰۱۷ ز کال کې له لسو زرو زیات و.

## امریکایي پوځ: په هلمند کې د طالبانو پر گڼو اهدافو هوایي بریدونه شوي دي

امریکایي ځواکونه وایي چې په تېرو دریو ورځو کې یې په هلمند کې پر طالب جنگیالیو باندې هدفي بریدونه کړي دي.

په افغانستان کې د امریکایي ځواکونو ویاند سوني لگیټ، په خپل ټویټر پاڼه لیکلي چې دغه بریدونه له افغان ځواکونو څخه د دفاع په خاطر شوي چې طالبانو پرې بریدونه کړي وو.

لگیټ زیاته کړې: «دا [د امریکایي ځواکونو بریدونه] د امریکا-طالبانو له موافقې سره سمون لري. امریکایي ځواکونو دمخه هم د طالبانو تر بریدونو لاندې د افغان قواوو ملاتړ کړی او په راتلونکې کې به یې هم وکړي.»

د امریکایي ځواکونو دغه ویاند همداشان د ناټو د قاطع ماموریت د قوماندان سکاټ مېلر له خولې ویلي چې د طالبانو بریدونه د دوحې له موافقې سره سمون نه لري.

هغه ویلي: «طالبان باید سمدستي په هلمند کې خپل بریدگر اقدامات بند کړي او په ټول هېواد کې د تاوتریخوالی راکم کړي. دغه بریدونه د امریکا-طالبانو له موافقې سره سر نه لگوي او د افغانستان د سولې روان مذاکرات کمزوري کوي.»



دا په داسې حال کې ده چې تر وړاندې سکاټ مېلر طالبانو ته خبرداری ورکړی و چې د تاوتریخوالي د نه کمولو په صورت کې دې غبرگون ته په تمه اوسي.

د یادونې ده چې طالبانو له تېرو دریو ورځو راهیسې د هلمند په مرکز لښکرگاه باندې خپلو بریدونو ته زور ورکړی او د رپوټونو له مخې، د کندهار-هلمند لویه لاره د ټرافیک پرمخ تړل شوې ده.

په ورته وخت کې ولسمشرۍ ماڼۍ ویاند صدیق صدیقي پرون په یوه خبري کنفرانس کې وویل چې تازه ځواکونه هلمند ته رسېدلي او ژر به طالبان هلته وځپي.

هغه زیاته کړې چې طالبانو د بریدونو تر څنگ د سړکونو او د برېښنا د یو بند په وېجاړولو هم لاس پورې کړی دی. صدیقي ویلي چې افغان کماندو ځواکونه هم هلمند ته رسېدلي او طالبانو ته یې مرگ ژوبله اړولې ده.

په افغانستان کې د طالبانو بریدونه په داسې حال کې زیات شوي چې د امریکا د متحده ایالتونو، ناټو، اروپایي ټولنې او ملگرو ملتونو په گډون نړیواله ټولنه په افغانستان کې د تاوتریخوالي زیاتېدل د منلو وړ نه بولي او د افغانستان د حکومت او د طالبانو له ډلې نه یې غوښتي چې ژر تر ژره اوربند وکړي.

## تازه شمېرې: په نړۍ کې د کرونا مثبتې پېښې ۳۷ میلیونه او ۸۴۱ زره او ۳۰۴ ته رسېدلې دي

د تازه شمېرو له مخې، په نړۍ کې د کرونا ویروس د مثبتو پېښو شمېر ۳۷ میلیونه او ۸۴۱ زره او ۳۰۴ ته رسېدلی دی. دغه راز د یاد ویروس له کبله تر دې دمه یو میلیون او ۸۲ زره او ۶۸۰ کسان مړه شوي او له ۲۸ میلیونو ډېر ترې بېرته رغېدلي دي.

د یادو شمېرو پر اساس، د امریکا متحده ایالتونه د کرونا د ډېرو مثبتو پېښو او قربانیانو له کبله د نړۍ تر ټولو مخکښ هېواد دی. په دغه هېواد کې د یاد ویروس مثبتې پېښې اووه میلیونه او ۹۹۶ زره او ۸۶۹ ته رسېدلي او ۲۱۹ زره او ۷۶۴ نور امریکایان یې مړه کړي دي.

له امریکا وروسته هند د کرونا وبا د اووه میلیونه او ۱۳۵ زره او ۶۸ مثبتو پېښو له اړخه د نړۍ دویم، برازیل د پنځه میلیونه او ۹۴ زره او ۹۷۹ مثبتو پېښو په درلودو سره د نړۍ درېیم، روسیه د یو میلیون او ۳۱۲ زره او ۳۱۰ مثبتو پېښو له کبله د نړۍ څلورم او کولمبیا د ۹۱۱ زره او ۳۱۶ مثبتو پېښو په درلودو سره د نړۍ پنځم هغه هېواد دی چې د کرونا ویروس ډېرې مثبتې پېښې پکې ثبت شوې دي.

هسپانیا، ارجنټاین، پېرو، مکسیکو او فرانسه په ترتیب سره شپږم، اووم، اتم، نهم او لسم هغه هېوادونه دي چې د کرونا وبا له کبله ډېر ځپل شوي دي.

بلخوا په ډېریو اروپایي هېوادونو کې د دې وبا د دویمې څپې له کبله یوځل بیا محدودیتونه ډېر شوي، د ماسک اغوستل اجباري شوي او خلکو ته اجازه نه ورکول کېږي چې په لویو غونډو او عمومي ځایونه کې سره راټول شي.

د هند د عامې روغتیا یو مقام رندیپ گولیریا د رویټرز خبري اژانس ته ویلي دي چې د هند نفوس زیات او د حکومت له هڅو سره سره بیا هم د اقتصادي او د نورو ټولنیزو ستونزو له کبله دا ویروس په هند کې زیات خپور شوی دی.

په ورته وخت کې د اسیایي هېوادونو له ډلې هند هغه هېواد دی چې دا ویروس پکې ډېر خپور شوی او لاهم په چټکۍ سره د خپرېدو په حال کې دی. یو شمېر هندي ډاکټران وایي چې په دغه هېواد کې ډېر خلک د یو بل تر منځ فاصله نه مراعتوي او ماسکونه نه تړي چې دا هم د کروناویروس د پېښو د زیاتېدو یو علت دی. د هند حکومت د مارچ په میاشت کې د کروناویروس له کبله کرنتین او محدودیت اعلان کړ چې د جون په میاشت کې یې دغه محدودیتونه بېرته پای ته ورسول. د دغو محدودیتونو له کبله د هند اقتصاد ډېر تاوان وکړ او میلیونونه کسان بېکاره شول.



## د کتاب خبرې

# افغانستان او سیمه‌ییزه همکاري فرصتونه او ستونزې

© لیکوال : څېړندوی محمد سرور احمدزی

### څلورم فصل
### دڅېړنې کلیات




**وړاندیزونه**

۱ـ افغانستان باید د سیمه‌ییزې همکارۍ د پراختیا لپاره خپل ظرفیتونه او وړتیاوې زیاتې او لازم مسلکي ظرفیت رامنځته کړي، د بېلگې په توگه د دوه اړخیزو همکاریو په اړه د اعلامیو او تړونونو د لیکلو او ترتیب په برخه کې افغانستان زیاتې ستونزې لري، افغان سیاستوال د سیمه‌ییزې همکارۍ د ارزښت په اړه پوره او بشپړ معلومات نه لري، له همدې امله افغان چارواکو ته باید د سیمه‌ییزې همکارۍ د پراختیا په موخه معلومات او روزنه ورکړل شي .

۲ـ افغانستان باید د شانگهای د همکاریو سازمان، ایکو، سارک او نورو سیمه‌ییزو سازمانونو سره خپلو اړیکو او همکاریو ته پراختیا ورکړي، له شانگهای سازمان سره د همکاریو پراختیا په برخه کې د چین همکاري او له سارک سره د همکاریو پراختیا په برخه کې د هند همکاري ډېره مهمه گڼل کېږي .

۳ـ د مشترکاتو روښانه کول،د سیمې د هېوادونو د مدني ټولنو غړي، لیکوالان او رهبران باید په مرکزي او جنوبي اسیا کې خپلو حکومتي مشرانو او سیاستوالو ته په ډاگه کړي، چې د دوی لنډمهاله او اوږد مهاله گټې له یو بل سره تړلي او دوی گډې اقتصادي گټې، گډ تاریخ او گډ مشترکات لري .

۴ـ افغانستان باید د سیمې له هېوادونو او خپلو گاونډیانو سره دوه اړخیزو اړیکو او همکاریو ته پراختیا ورکړي، نړیوالې اداري او بنسټونه په دې برخه کې مرسته کولای شي، افغانستان باید د دوه اړخیزو ستونزو حل ته پاملرنه وکړي او د سیمې له هېوادونو سره اقتصادي، سیاسي او امنیتي هماهنگۍ ته پراختیا ورکړي .

۵ـ افغانستان باید هڅه وکړي چې په افغانستان او سیمه کې د سولې او ثبات د ټینگښت په موخه د سیمې د سترو قدرتونو او خپلو گاونډیو هېوادونو ملاتړ ترلاسه کړي،د سولې او ثبات له ټینگښت پرته به د سترو اقتصادي پروژو تطبیق ستونزمن او ان ناممکن وي .

٦ـ د افغانستان او سیمه‌ییزې همکارۍ په اړه په هېواد کې دننه د علمي او د څېړنې له اصولو سره سم څېړنې او تحقیقات نه دي شوي او یا هم لږ کار شوی، وړاندیز کوم چې په دې اړه څېړنې، لیکنې دوام پیدا کړي، او ان په دې اړه د ځینو علمي او ملي سیمینارونو او کنفرانسونو جوړېدل به ډېر مهم وي .

۷ـ د افغانستان حکومت باید هڅه وکړي چې د افغانستان او پاکستان ترمنځ د ازادې سوداگرۍ او ترانزیټ په تړون سره د هند او مرکزي اسیا هېوادونه هم یو ځای شي او د افغانستان حکومت باید د سیمې له هېوادونو سره د سوداگرۍ او ترانزیټ، په ځانگړې توگه دهوایي دهلیزونوپه برخه کې د همکاریو نوي تړونونه لاسلیک کړي .

۸ـ د افغانستان حکومت باید د اورگاډي پټلۍ جوړولوته پاملرنه وکړي، افغانستان باید د اورگاډي پټلۍ په وسیله له مرکزي او جنوبي اسیا سره ونښلول شي، د دې ترڅنگ افغانستان باید د ایران او هند ترمنځ له نوري فایبر سره هم یوځای شي .

۹ـ د سوداگرۍ او ترانسپورت په برخو کې باید اسانتیاوې رامنځته شي د سوداگرۍ د اسانتیا په موخه د میکانیزمونو رامنځته کول، د گمرکي طرزالعملونو ساده کول، د سوداگرۍ د پروسې ساده کول، د قوانینو اصلاح کول، له ټیکنالوژۍ څخه استفاده کول او بانکي اسانتیاوې رامنځته کول باید د افغانستان د حکومت مهم لومړیتوبونه واوسي .

۱۰- د افغانستان حکومت باید په خپل بهرني سیاست کې اقتصادي گټو او اهدافو ته لومړیتوب ورکړي او د امنیت محورو سیاستونو له تعقیب څخه ډډه وکړي، پر نړیوالو مرسته باندې خپله تکیه کول راکم کړي، افغانستان باید د سیمه‌ییزې همکارۍ د پراختیا په تړاو فعاله ډیپلوماسي او ښکاره موقف ولري، سیمه‌ییزې همکارۍ د پراختیا او له سیمه‌ییزو سازمانونو د همکاریو او اړیکو پیاوړتیا په موخه باید یوه مشخصه تگلار رامنځ ته شي.د دې ترڅنگ افغان حکومت باید له سیمه‌ییزو رقابتونوهم ځان لرې وساتي .

۱۱ـ د افغانستان حکومت باید په افغانستان او سیمه کې د سولې او ثبات ټینگښت لپاره په خپل بهرني سیاست کې بدلونونه رامنځته کړي، افغانستان باید مستقل سیمه‌ییز سیاست ولري او د دوه اړخیزو گټو په چوکاټ کې د سیمې له هېوادونو سره ښې، نږدې او پراخې اړیکې رامنځته کړي .

۱۲- د سیمه‌ییزې همکارۍ د اهمیت، فرصتونو او ستونزو په اړه باید لا ډېر تحقیقات وشي او دغه تحقیقات باید د افغانستان حکومت له اړوندو ادارو سره شریک کړای شي، څو د سیمه‌ییزې همکارۍ د پراختیا په موخه د یوې اغېزمنې سیمه‌ییزې تگلارې په جوړېدو او تطبیق کې ورڅخه گټه واخیستل شي .

پای

# لوئیز گلوک

شفیق امیرزی




لوئیز الیزابت گلوک امریکایي شاعره او لیکواله ده. هغه په ۱۹۴۳ز کال کې زیږېدلې ده. نوموړې په ادبي برخه کې ډېرې جایزې گټلې دي. د پولیتزر جایزه، د انساني علومو مډال، د کتاب ملي جایزه، د کتابونو د منتقدانو د حلقې جایزه، بولینگن جایزه او اوس تازه په تازه دغه ده د نوبل جایزې گټونکې هم شوه. له ۲۰۰۳ تر ۲۰۰۴ز کال پورې یې د امریکا د غوره شاعرۍ جایزه هم گټلې وه. روانه میاشت د نوبل جایزې بنسټ اعلا ن وکړ چې الیزابت گلوک ته یې د غوره ادبي خدماتو له امله د نوبل د ادبیاتو جایزه ورکړې ده. نوبل بنسټ زیاته کړې چې هغه په خپلو بې تېروتنو شعرونو، ښایسته غږ او شاعرۍ باندې د فردي وجود یوه بېله نړۍ جوړه کړې ده.

گلوک ته تر ډېره د ژوندلیک شاعره وایي. په دې مانا چې په شاعرۍ کې یې تر ډېره فردي او شخصي تجربې را اخیستې دي. د یوه ژوندلیک په څېر د خپل ژوند پېښې بیانوي. لوئیز په ژوند کې له ډول ډول پېښو سره مخ شوې ده. دې هر څه یې ژوند ته افسانه‌یي او اسطوره‌یي رنگ ورکړی دی. گلوک په نیویارک کې وزیږېده، په لانگ آیلند کې لویه شوه، هغه د ښوونځي زده کوونکې وه چې په عصبي برخه کې له یوې ستونزې ځورېده. وروسته له دې ناروغۍ ورغېده، خو پر ژوند یې دې هر څه خپل اغېز درلود. په سارا لاورنس کالج کې یې د زده کړو لپاره نوملیکنه وکړه، کلمبیا پوهنتون ته لاړه، خو کوم سند یې تر لاسه نه شوی کړی. گلوک په خپله شاعرۍ کې تر ډېره پر شخصي تمایلاتو او په تروما د اخته کېدو له ترخو تجربو خبرې کوي.

لوئیز گلوک د دانیل گلوک لور وه چې سیمه ییز سوداگر و. مور یې بیاتریس گلوک نومېده چې په اصل کې د روسیې له یهودانو وه. نیکه او نیا یې بیا د هنگري له یهودانو وو، چې امریکا ته کډوال شوي وو. نیکه او نیا یې په دې بریالي شوي وو چې په امریکا کې د خوړو یو کوچنی پلورنځی جوړ کړي. پلار یې هیله لرله چې لیکوال شي، خو بخت ورسره یاري ونه کړه چې دې هیلې ته ورسېږي، بالاخره یې سوداگرۍ ته مخه کړه، خو مور یې ویلزلي کالج لوستی و. مور او پلار یې گلوک ته په ماشومتوب کې کیسې کولې، د پخواني یونان افسانې به یې ورته لوستې، په هغه وخت کې دود شوي داستانونه یې ورته لوستل او گلوک په همدې چاپېریال کې لویېدله. لا ماشومه وه چې له شعر ویلو سره یې مینه پیدا شوه او ماشومانه شعرونه به یې لیکل او زمزمه کول. هغه ښوونځي پیل کړ، خو مخکې مو هم وویل چې په عصبي برخه کې له تروما ځورېده، دا مسئله د دې سبب شوه چې په زده کړو کې یې ستونزې جوړې کړي. کالج ته مکمل وخت نه شوی ورتللی، نو ځکه یې زده کړې مکملې او پوره نه وې، رسمي سند یې وا نه خیست. ناروغي یې تر ډېره د زده کړو لپاره خنډ شوه. گلوک بیا په ساراه لاورینس کالج کې د شعر لیکلو یوه ټولگي ته نوملیکنه وکړه. له ۱۹٦۳ز تر ۱۹٦٦ز کال پورې دلته وه. همدا راز یې د شعر لیکلو په یوه ورکشاپ کې په کولمبیا پوهنتون کې هم نوملیکنه وکړه. نوموړې وایي چې په دې ځای کې یې له دوو استادانو لیونۍ آدامز او سټانلي کونتیز ډېره متاثره شوې وه او هغه د خپل پرمختگ اصلي لاملین او مرستندویان بولي.

گلوک له کولمبیا پوهنتون بې سنده فارغه شوه او هېڅ کوم تحصیلي سند یې له دې پوهنتون تر لاسه نه کړ. له دې وروسته اړ وه چې د خپل ژوند د تېرولو لپاره کار وکړي. لومړی یې کار په دفترونو کې له منشیتوب پیل کړ. په همدې وخت کې یې له چارلیز هرتز سره واده وکړ چې وروسته په طلاق ختم شو. په ۱۹٦۸ز کال کې گلوک خپله لومړنۍ شعري ټولگه د (Firstborn) په نامه چاپ کړه. بیا یې په ۱۹۷۱ز کال کې په گوادرد کالج کې د شعر د استادۍ په توگه دنده پیل کړه. لومړنۍ شعري ټولگه یې په امریکا کې د شعر د منتقدینو او لیکوالانو له تاوده هرکلي سره مخ شوه. دویمه شعري ټولگه یې هم د استادۍ پر مهال لیکلې ده او دا ټولگه یې (The House on Marshland) نومېږي چې په ۱۹۷۵ز کال کې له چاپ راووته. د شاعرانو په وینا، دا په شعر کې یو نوی طرز، نوی غږ او نوی ډول دی چې لا به وغوړېږي او دوی د گلوک لا بریا له ورایه لیدله.

گلوک په ۱۹۸۰ز کال کې بله شعري ټولگه هم چاپ کړه، چې ځینو شعرونو باندې یې نیوکې وشوې او نقادانو ویل چې د هغه ځینې شعرونه د ماشومانو ضد دي او داسې څرگندوي چې گواکې هغه د ماشومانو ضد شاعره ده. بلخوا په همدې کال کې د اورلگېدنې له امله په ورمونت کې د گلوک کور وسوځېد او د نوموړې هر څه پکې وسوځېدل. دې پېښې یې پر ژوند ډېر اغېز وکړ او خورا خواشینې شوه. له دې وروسته یې په شاعرۍ کې نور بدلونونه هم راغلل. د دې مهال شعرونه یې بیا په ۱۹۸۵ز کال کې په (The Triumph of Achilles) نومې ټولگه کې راټول کړل. د هغه وخت نقادانو ویل چې د گلوک دا شعري ټولگه تر نور ټولو پخوانیو ټولگو مخکښه ده، واضح ده او یو بېل نوی طرز پکې کارېدلی. همدا د گلوک لومړنۍ اثر و چې هغې ته یې جایزه وگټله او نوموړې یې په امریکا کې مشهوره کړه.

گلوک په ۱۹۸۴ز کال کې په ماسوچیست کې په ویلیامز کالج کې د انگلیسي د تدریس د برخې غړې شوه. یو کال وروسته یې پلار ومړ. دې پېښې یې پر ژوند خورا منفي اغېز وکړ. همدا لامل شو چې د مرگ او د پلار د مړینې ترخې تجربې په (Ararat) نومې شعري ټولگه کې راټولې کړي او په ۱۹۹۰ز کال کې یې چاپ کړي. دا کتاب د منتقدانو له توندو څرگندونو سره مخ شو. دوی دا کتاب د ظالمانه او وحشتناکه صحنو وړاندې کوونکی وباله. د نیویارک ټایمز یوه منتقد ډوایټ کارنر ولیکل چې دا د امریکایي ادبیاتو په تاریخ کې په تېرو ۲۵ کلونو کې تر ټولو وحشیانه لیکل شوی اثر دی. په دې اثر کې وېره، ناهیلي، درد، غمونه او تورې تیارې په شعري ژبه وړاندې شوې وې. همدا نقدونه د دې سبب شول چې گلوک خپله بله شعري ټولگه له انځورونو، ښایستونو، طبعیت او خوشالیو له تصویرونو ډکه کړي او خواږه کلمات وکاروي. پر دې کتاب یې (The Wild Iris) نوم کېښود او په ۱۹۹۲ز کال کې چاپ شو. په دې کتاب کې یې د ژوند پر مانا، هدفونو، ښکلاوو او نورو بېلو مسایلو خبرې کړې دي. د نقادانو له تاوده هرکلي سره مخ شو او هغه یې یو مهم کار وباله.

۱۹۹۰یمه لسیزه د گلوک په ژوند کې د بریاوو لسیزه وه، خو تر څنگ یې په شخصي ژوند کې هغه ډېرې ستونزې هم لرلې. له خاوند سره یې کشمکش و چې په پایله کې یې طلاق رامنځ ته شو، کورنۍ ستونزې یې ډېرې وې چې بیا یې دا ټولې تجربې شعر ته هم را ولېږدولې. په ۱۹۹۴ز کال کې یې د شعر لیکلو تر څنگ د شعر په اړه مقاله لیکل هم پیل کړل، چې بیا یې وروسته دا ټولې مقالې د یوه کتاب په بڼه چاپ کړې. گلوک همداسې د ژوند خپلې هرې پېښې ته لیکل کړې دي او د ژوند ډېرې تجربې یې په شعرونو کې منعکسې شوې دي. د ۲۰۰۱ ز کال د سپټمبر په یوولسمه چې کله په نیویارک کې ترهگریزه پېښه وشوه، نو د امریکایي وگړو پر رواني وضعیت یې خورا ناوړه اغېز وکړ. گلوک هم له دې اغېز لرې نه وه، د همدې پېښې په تاثر یې په ۲۰۰۴ز کال کې یوه شعري ټولگه چاپ کړه چې په هغه کې یې د امریکا دغه پېښه او تر هغې وروسته وضعیت په یوه اوږد شعر کې انځور کړی و. کتاب شپږ برخې و، خو په اصل کې موضوع یوه وه. دا یې د یونان د پخوانیو اسطورو په تقلید لیکلی شعر و، چې تر ډېره د هغه پېښې اغېز او د امریکایي وگړو رواني ضربې او وضعیت پکې منعکس شوی و. نوموړې د همدې ادبي فعالیتونو په دوام د ډېرو امریکایي او نړیوالو جایزو تر څنگ، دا دی په ۲۰۲۰ز کال کې د ادبیاتو په برخه کې د نوبل جایزې گټونکې شوه. نوموړې دا د ځان لپاره ستر ویاړ بللی دی او وایي، خپل احساسات نه شي بیانولی. هغې ته چې کله د نوبل بنسټ له لورې د جایزې د ورکړې په پار زنگ ووهل شو، حیرانه شوه. باور یې نه راتلو چې د نوبل جایزې له بنسټ به ورته زنگ وهل شوی وي. گلوک د نوبل جایزې په تاریخ کې د ادبیاتو په برخه کې د دې جایزې شپاړسمه ښځینه گټونکې ده.

گلوک خپل ځانگړی سبک لري. هغه په شاعرۍ کې له دې امله مشهوره ده چې کلمات دقیق کاروي. په دې مانا چې د ژبې له کارونې سره له پوره دقت کار اخلي. هغه د کلماتو؛ مفاهمو او اصلیت ته ډېره توجه کوي. نه غواړي چې د خپلې قافیې د جوړولو لپاره کلمات خراب کړي. د نوبل جایزې بنسټ هم ویلي چې د غلطۍ نه لرونکې شاعرۍ لپاره یې دغه جایزه گټلې ده. نوموړې د کلماتو په کارونه کې هېڅ وخت تېروتنه نه کوي. امریکایي منتقدین یې له دې امله ستایي او په دې باور دي چې شاعرۍ او لیکوالۍ یې د ژبې له ښه کولو سره هم مرسته کړې ده. امریکایي نقاد کریگ مورگان وایي، هغه داسې شاعره ده چې کلمات یې تل کامیاب او پر خپل ځای کارولي دي. هغه کلمات په سختۍ راټولوي او هېڅ وخت نه غواړي چې په اسانۍ یې وبایلي.

یو بل څه چې گلوک یې محبوبه کړې ده هغه له مخاطب سره د نوموړې صداقت دی. هغه په پوره صداقت د خپل ژوند تجربې له مخاطب سره شریکوي او مخاطب یې هم اوري او له دې تجربو استفاده کوي. د گلوک شاعرۍ ته ځکه د ژوند لیک لیکلو سبک وایي، ځکه هغه د خپل ژوند مهم موارد او پېښې په پوره مهارت لیکلې او تر لوستونکو رسولې دي. ځینې نقادان بیا وایي چې گلوک یوه اعترافي یا اعتراف کوونکې شاعره ده، چې پر خپلو تېروتنو او ستونزو اعتراف کوي، خو ځینې نور بیا وایي چې دا اعترافونه نه دي، بلکې پېښې دي او په هغو مواردو کې د خپل ژوند خبرې کوي، چې اړتیا یې پېښېږي. د گلوک په شاعرۍ کې متکلم خبرې کوي، مرکزي کس تل اول شخص دی او فردي تجربې شریکوي.

گلوک دمگړۍ په امریکا کې ژوند کوي او هیله لري چې خپل ادبي خدمات یې لا پراخ کړي. د نوبل بنسټ ویلي چې هغه په شاعرۍ کې نوې لارې جوړې کړې دي، سبک یې ځانگړی دی، مهمې انساني تجربې یې لېږدولې دي، د خلکو پر ژوند یې د شاعرۍ اغېز ډېر دی، نو ځکه یې د ادبیاتو په برخه کې د نوبل گټونکې بللې ده.

## اقتصاد

### د اسعارو بيې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۷ |
| € | ۸۹,۹۰ |
| Rp. | ٤٧٤ |
| ₹ | ۱۰٤۰ |
| ¥ | ۱۰,٦۰ |
| £ | ۹۸,٦۰ |

### بېړنۍ شمېرې

پوليس
119 - 100

امبولانس
112

اتاترک روغتون
0202500312

ملالی زېږنتون
0202201377

وزير محمد اکبر خان روغتون
0202301360

رابعه بلخي روغتون
0202100439

د کرونا روغتيايي مرکز
166

مسیر ورځپاڼه
مسوول مدير: اسدالله وحيدي
مرستيال: شفيق اميرزی
ایډیټران: جواد تيموري او امان الله حنيفي
خبريالان: حميدالله حميدي، حکمت آرين
او حشمت الله نوري
گرافيک او ډيزاين: ارمان
چاپخونه: وايگل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲٦۲٦
۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦
maseerdaily@gmail.com
0202520100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

همیانی

# دوه ځله ناکامي

ژباړه: امان الله «حنيفي»

زه ډېر خوشبخته يم چې په دغه لنډ ژوند کې مې دوه ځله لويه ناکامي ليدلې ده. بيا هم وايم چې زه خوشبخته يم، ځکه همدا پرمختگ و چې تجربه مې کړ او همدا درسونه وو چې زده مې کړل. ما دا درسونه د ژوند په تر ټولو سخت دوران کې زده کړې دي او بالاخره دا د دې باعث شول څو هغه ژوند پيل کړم چې زه يې له ډېره وخته په لټه کې وم. زه خوشاله يم چې پر برياليتوبونو سربېره مې له ناکاميو هم پر ځينو موانعو د برلاسي کېدو لپاره استفاده کړې او ډېر څه مې لاس ته راوړي دي، له هغه ډېر څه مې لاس ته راوړي دي چې فکر مې کاوه هغه لاس ته راوړلی شم.

زما لومړۍ ناکامي: په هغه صحنه کې مړ وم

زما لومړۍ ناکامي هماغه د موټر د ټکر پېښه وه، هغه وخت زه ۲۰ کلن وم چې نږدې وه په هغه پېښه کې مړ شم. هغه شپه ما تر ټولو ښه وينا کړې وه او له مېرمنې سره يوځای د خپل کور پر لور روان وم، چې يو ناڅاپه مې موټر ټکر کړ. زه د کوما حالت ته تللی وم، ٦ هډوکي مې مات شوي وو، مېرمن مې مړه شوې وه او زه څو ورځې عادي حالت ته نه شوای راتلی.

زما دويمه ناکامي: ډېر پور او له حد زياته افسردگي

ډېر زيات نااميده کېدل د موټر د ټکر له پېښې په څو څو وارې زيات راته دردناک او مرگوني وو.

۲۰۰۸ ز کال: د امريکا د متحده ايالتونو اقتصاد تر ټولو په بد حالت کې و، په داسې حال کې چې اقتصادي وضعيت يې ببرته ۱۹۳۰مې لسيزې ته گرځېدلی و. له هغې پېښې په وروسته کلونو کې جسمي روغتيا او د شپږ رقمي کلني عايد لرونکي يو ښه کار په پيلولو او د تر ټولو زيات پلورل شوي کتاب په ليکلو سره زه يو وار بيا له ننگونو سره مخ شوم. دغه ننگونه يوه کاملاً ذهني، عاطفي او مالي فروپاشي وه.

ظاهراً هغه شرکتونه چې جوړ کړي مې وو، چنداني گټه وټه يې نه درلوده. له مياشتني عايد نيمايي مې بيخي له منځه لاړ. يو ناڅاپه شرايط داسې شول چې نور مې حسابونه په خپل وخت نه شوای پرې کولی. ما هغه وخت نوی کور اخيستی و، له مېرمنې سره مې د واده مراسمو پر برابرولو مصروف وم او دا وخت موږ د خپل لومړني بچي د درلودو لپاره پلان جوړاوه. زه ډېر سخت له ذهني فشار سره مخ وم، ځکه ډېر پوروړی شوی وم او د هغه پرې کول راته يو څه گران وو. زه د ژوند په ډېره ټيټه مرحله کې وم، ايا کېدای شوی چې وضعيت مې له دې هم بد شوی وی؟ ممکن؛ خو ايا دا هغه بده پېښه وه چې تر اوسه له ما سره شوې وه؟ هو، همداسې وه.

زه کاملاً په سخت حالت کې وم.

ولې راته ډېر پوروړي کېدل تر مرگ بد وو؟

که تاسې له ما وپوښتئ چې کومه يوه پېښه درته ډېره بده وه، د موټر ټکر او که مالي تنگلاسي، زه به پرته له فکر کولو درته ووايم چې دويمه هغه يې. ډېری خلک فکر کوي چې له يو ډېر تېز سرعت لرونکي موټر سره ټکر، د بدن د ۱۱ هډوکو ماتېدل، د سر سخته ضربه خوړل، شپږ مياشتنی د مرگ په څېر حالت، له کوما حالته په هوښ راتلل او د دې خبرې اورېدل چې ممکن نور پر لاره پلی تگ ونه شي کړای؛ دا هرڅه ډېر سخت وو. دا تصور د منلو وړ دی چې جسمي، عاطفي او روحي درد د يوې داسې وحشتناکې پېښې له امله کېدای شي چې د ژوند تر ټولو بده پېښه وي. دا ټول زما په حق کې وشول.

پوهېږی، له دې پېښې وروسته زه متوجې شوم چې خلک له ما سره يوځه مرسته کوي. په روغتون کې مې د کورنۍ غړي رانه هېڅکله جدا نه شول. هر وخت به مې خلک پوښتنې ته راتلل، کورنۍ او ملگرو به مې ډېره مينه راکوله، هغوی به مې هره ورځ وضعيت ارزولو او له ما سره به يې په شخصي نظافت کې مرسته کوله. تر ټولو د ښو او پياوړو ډاکټرانو او نرسانو ډله زما لپاره مؤظفه شوې وه، هغوی به ډوډۍ راته تياروله او ما ته به يې راوړله. ما حتی د دې ورځنيو سټريسونو او د کار او حسابونو په وخت پرې کولو هېڅ اندېښنه نه درلوده. دې اوس په پرتله مې په روغتون کې ژوند ډېر اسانه و. خو د پورونو پرې کولو شرايط مې بيا داسې نه وو، هېڅوک مې د حال پوښتلو ته رانه غلل او هلته هېڅوک نه وو چې زما مراقبت وکړي او زما د ښه والي لپاره زما له حالته نظارت وکړي. هېڅوک ډوډۍ راته را نه وړه، هغه وخت يوازې او يوازې وم، ځکه هر څه خپلې ستونزې درلودې، په ژوند کې مې دويم ځل د کشمکشونو لړۍ پيل شوه، زه په هر لحاظ جسمي، ذهني، عاطفي او مالي سخت ځپل شوی وم.

سختې وېرې او اندېښنې پر سر اخيستی وم، يوازې هغه وخت به مې د راحتۍ احساس کاوه چې ويده به شوم، په سختو ترينگلو شرايطو کې وم، داسې چې له دې مشکلاتو د لنډ وخت لپاره د خلاصون په اړه به مې فکر کاوه، دا ځای او وخت به يوازې د خوب بستر و.

هره ورځ به مې د ځان وژنې په اړه فکر کاوه، البته هېڅ وخت مې په دې اړه مسلسل فکر نه دی کړی، ځان وژنه نه يوازې دا چې فردي غوښتنه ده، بلکې دا يو ډېر سخت کار هم دی. پوهېږم، هرڅومره که ژوند ډېر سخت هم وي، بياهم هر وخت او هر چېرې د هغه د ښه کولو لپاره يوه لار شته. خو دا وخت مې هم لا منفي افکار په ذهن کې وو. زما يوازينۍ ستونزه دا وه چې د مالي ستونزو د حل لپاره مې حللاره نه شوای موندلی. نه مې شوای کولای چې پر يو داسې شي فکر وکړم چې عاطفي درد مې له منځه يوسي او ما ته ارامي راکړي.

هغه سهار چې زما ژوند يې بدل کړ

پوهېږی دې هرڅه په يوه سهار بدلون وکړ، يو سهار وختي پاڅېدم او د خپل ملگري جان هغه خبره مې ومنله، چې راته ويلي يې وو، هېڅوک په يو وار نه شي کولای چې فوق العاده بريا تر لاسه کړي، هغه به په ډېر تاکيد سره ويل؛ پوهېږې! هر لوی حرکت په کوچني هغه سره پيل شوی دی.

ما دا سهار د نورو خلاف لس دقيقې منډه وکړه، دا چاره مې جاري وساتله، دې سپورټ زما هرڅه بدل کړل، زما جسمي وضعيت ښه شو، رواني فشارونه مې ورځ تر بلې کم شول، د منډې وهلو ښه ملگري مې پيدا کړل، شپږ مياشتې وروسته مې د نوې دندې فرصت وموند او بالاخره مې د نږدې يو کال په تېرېدو ډېر تغير وکړ او دا دې نن د خپلې خوښې وړ ژوند لرم.

مهمه نه ده چې څو ځلې ناکام شوي ياستی؛ مهمه ده چې څو ځلې مو بيا بيا هڅه کړې ده.



## د خوړو نړيوال پروگرام: ۱۵ ميليونه افغانان د خوړو د نه‌خونديتوب له ستونزې سره مخ دي



د خوړو نړيوال پروگرام وايي، روان ميلادي کال ۱۵ ميليونه افغانان د خوړو د نه‌خونديتوب له ستونزې سره مخ دي.

د ملگرو ملتونو د دې ادارې په وينا، له دغې ستونزې سره د مخامخ وگړو ٪٦۰ ښايي ماشومان وي. په کابل کې د دغه پروگرام وياند وحيدالله اماني ويلي، په افغانستان کې د خوړو له نه‌خونديتوب سره د مخامخ خلکو د شمېر د زياتېدو يو علت د کرونا د وبا له کبله د خلکو وزگارېدل دي.

اماني زياته کړې: «د ۲۰۲۰ز کال په لومړيو کې له ۱۲ ميليونو زيات خلک د خوړو له نه‌خونديتوب سره مخامخ وو. د کرونا د وبا له راتلو سره په ځينو لويو ښارونو کې د قرنطين په موده کې هغو خلکو چې په بازارونو کې يې کار کاوه او د ورځني کار له لارې يې يو څه گټل نه‌شوای کولای نور په بازار کې کار او د خپلو کورنيو ملاتړ وکړي. زموږ اټکل دا دی چې د کال تر پايه ښايي په افغانستان کې ۱۵ ميليونه يا له ۱۵ ميليونه زيات خلک د خوړو له نه‌خونديتوب سره مخامخ وي.»

د غزني د ارزوی کلان سيمې اوسېدونکی نصرالله چې د جگړو له کبله بې‌کوره شوی او اوس د غزني په پښتون‌اباد سيمه کې دېره دی وايي، په خپل پلرني کلي کې تاکونه لري، خو دی او زامن‌يې اوس د کرونا وبا له کبله وزگار دي.

هغه وايي: «کار کله راته پيدا شي کله نه شي. بېگا د ۲۰، ۸۰ يا ۱۰۰ روپيو بېنډۍ کور ته راوړم، هغه هم نيمه کلکه وي. دا حالت او داسې ژوند چې زموږ دی، د هغو خلکو هم نه دی چې اقتصاد يې په صفر ولاړ دی.»

په ورته وخت کې د ماشومانو ژغورنې ادارې يا سېف دې چلډرن په مې مياشت کې ويلي وو چې افغان ماشومان د خپل وجود د معافيتي سيستم د پياوړي کولو لپاره د ورځې مناسبو خوړو ته اړتيا لري، خو په عين حال کې په افغانستان کې د قرنطين په ترڅ کې د خوړو د موادو بيې اوچتې شوې دي.

د ناروې د کډوالو د شورا په وروستي راپور کې هم د څو نورو هېوادونو ترڅنگ په افغانستان کې د ماشومانو لپاره د خوړو د نه‌خونديتوب په کچه کې د پام وړ زياتوالي يادونه شوې ده. د دغه راپور له مخې، په يادو هېوادونو کې د روان کال په لومړۍ نيمايي کې د هغو ماشومانو شمېر چې عمرونه يې له پنځو کلونو ټيټ دي او په خوارځواکۍ اخته کېږي، په ۱۰۰ کې ۱۳ زيات شوی دی.

Maseer
New Vision, New Journey
Daily

غوره کیفیت او چټک خدمات په
وایګل چاپ کې تجربه کړئ!
WAYGAL
PRINTING CO
if You Can Think it, we Can ink it.
+93 (0) 202 51 2626, +93 (0) 782 98 9696
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul
waygalprinting.co
waygalprinting.co@gmail.com

سه شنبه د ۱۳۹۹ د تلې ۲۲مه | د ۲۰۲۰ د اکتوبر ۱۳مه | ۶۱۰مه ګڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۲۰ | ۲۵ | ۲۷ | ۲۵ | ۳۳ | ۲۶ |
| ۸ | ۹ | ۱۱ | ۱۱ | ۱۸ | ۱۲ |

شرعي وختونه: سهار ۰۴:۳۴ | لمر ختل ۰۵:۵۶ | ماسپښین ۱۱:۴۰ | مازیګر ۰۲:۵۴ | ماښام ۰۵:۲۳ | ماخوستن ۰۶:۴۶

## نړۍ



تازه شمېرې: په نړۍ کې د کرونا مثبتې پېښې ۳۷ میلیونه او ۸۴۱ زره او ۳۰۴ ته رسېدلې دي
۳

## راپورونه: امام علي رحمان د پنځم ځل لپاره د تاجکستان د ولسمشر په توګه وټاکل شو



د تاجکستان برحاله ولسمشر امام علي رحمان د جمهوري ریاست ټاکنې ګټلي او د پنځم ځل لپاره د دغه هېواد ولسمشر شو. د دغه هېواد د ټاکنو کمېسیون ویلي چې امام علي رحمان ۹۰.۹۲ سلنه رایې وړي او د پنځم ځل لپاره د دغه هېواد د ولسمشر په توګه انتخاب شو. د یادونې ده چې تاجکستان ۹.۵ میلیون نفوس لري او ورمه ورځ پکې ولسمشریزې ټاکنې وشوې.

تر ټاکنو مخکې هم اټکل دا و چې ښایی ولسمشر رحمان په اسانۍ دا انتخابات وګټي؛ ځکه چې هغه کوم پیاوړی انتخاباتي سیال نه درلود. ٦٨ کلن امام علي رحمان د ۱۹۹۲ز کال راهیسې پر تاجکستان واکمن دی او هغه په پرله پسې توګه خپل نفوذ زیات کړی دی. نوموړي په ۲۰۱٦ز کال کې د خپل هېواد اساسي قانون تعدیل او د جمهوري ریاست څوکۍ ته یې د نوماندۍ محدودیتونه لرې کړل چې وکړای شي هر څومره چې غواړي، په واک پاتې شي.

رویټرز آژانس وایي چې په تاجکستان کې زیات خلک پر دې باور دي چې رحمان به د خپلو نهو اولادونو له جملې څخه خپل زوی رستم رحمان لپاره لاره هواره کړي چې ځایناستی یې شي. په ورته وخت کې د نوموړي د حکومت لوی اپوزیسیون سوسیال ډیموکرات ګوند اعتراض کړی او له ټاکنو سره یې پرېکون کړی و.

## راپورونه: په نګورو قره باغ کې د اذبایجان او ارمنستان د پوځیانو ترمنځ یوځل بیا جګړو زور اخیستی

د راپورونو له مخې، د اذربایجان په نګورنو قره‌باغ سیمه کې د ارمنستان او اذربایجان د ځواکونو ترمنځ یوځل بیا سختې نښتې شوې دي. دواړه لوري یو بل د روسیې په منځګړیتوب د نافذ شوي اوربند پر ماتېدو تورنوي.

د یادونې ده چې د دواړو هېوادونو ترمنځ دغه اوربند د اکتوبر پر ۱۰مه په مسکو کې وشو. د اذربایجان دفاع وزارت ارمنستان تورن کړی چې د اوربند ترون ته ژمن نه‌دی او زیاتوي چې د دغه هېواد ځواکونو په پرله‌پسې ډول هڅه کړې چې د اذربایجان پوځي اهداف په نښه کړي.

اذربایجان وایي، ارمنستان په ګنجه ښار کې پر ملکي اهدافو راکټي بریدونه کړي او په ځواب کې یې دوی پر ارمني ځواکونو هوایي بریدونه وکړل، خو ارمنستان بیا دغه ادعا رد کړې ده.

د یادونې ده چې په نګورنو قره‌باغ سیمه کې د سپټمبر له ۲۷مې نښتې راهیسې تازه جګړې پیل شوي چې د راپورونو له مخې سلګونه سرتېري او ملکي وګړي پکې وژل شوي دي.

امریکا، رسیې، ناټو، اروپایي ټولنې، ملګرو ملتونو او ګڼو نورو هېوادونو پر ارمنستان او اذربایجان غږ کړی چې ژر تر ژره دې روانه جګړې ودروي او خپلمنځي ستونزې دې د خبرو له لارې حل کړي.

## متقاضیان ویزۀ پاکستان در یک هفته برای بار دوم در کابل دست به تظاهرات زدند



صدها تن از متقاضیان ویزۀ پاکستان، از فعالیت کمیشن کاران در اخذ ویزۀ پاکستان انتقاد کرده و می گویند که بدون دادن رشوه به کمیشن کاران و نیروهای امنیتی موظف در این سفارت، دریافت ویزه مشکل است.

دیروز برای بار دوم در یک هفته، صدها تن از متقاضیان ویزۀ پاکستان در اعتراض به طولانی بودن روند توزیع ویزه، فعالیت کمیشن کاران و اخذ رشوه توسط پولیس برای دریافت ویزه، دست به تظاهرات زده و حدود یک ساعت، جادۀ کارته پروان- بره کی را مسدود کردند.

مارینا متقاضی ویزۀ پاکستان، درحالیکه در عقب دروازه ساختمان سفارت پاکستان ایستاده بود، گفت که حدود پنج روز است که به منظور اخذ ویزه، به سفارت این کشور مراجعه می کند؛ اما تاکنون موفق به دریافت ویزه نشده است.


وی افزود: «نه تنها مردان، بلکه زنان نیز دوبجه شب می آیند و کسانی که از ۵ تا ۲۰ هزار افغانی رشوه می دهند، بدون نوبت برای شان اجازه داخل شدن داده می شود؛ اما کسانی که پول نمی دهند، روزها است که در پشت دروازه سفارت منتظراند.»

موصوف، با انتقاد جدی از نیروهای پولیس گفت که نیروهای امنیتی موظف در سفارت، نه تنها مردان، بلکه زنان را نیز لت و کوب می کنند.

از سوی دیگر منصور خان سفیر پاکستان مقیم کابل، به پژواک گفته است که در جریان چند روز گذشته، ویزه تنها به محصلان و مریضان شدید توزیع میشد؛ اما سر از امروز، توزیع ویزه برای همه متقاضیان، در کابل و سایر قونسلگری ها در ولایات آغاز می شود.

## ژوند


## خپل مسوولیت هېچا ته مه سپارئ



ډېرې خلک په دې اند دي چې مالي سلاکاران به یې تل په ګټه پرېکړه کوي. که تاسو ټولې چارې مالي سلاکارانو ته وسپارئ او خپله څه زده نه کړئ، هغه ده چې زیان به مو کړی وي. مهمه نه ده چې تاسو مالي سلاکار په دنده ګومارلی، مهمه دا ده چې تاسو د خپلې پانګې او د پانګې د راتلونکې مسوول یاست. تاسو د خپلې هرې پرېکړې مسوول یاست. همدا تاسو یاست چې د ځان لپاره مو مالي سلاکار ټاکلی او پرېکړه مو کړې ده چې په کومه برخه کې پانګونه وکړئ. اوس که له خپلې دې پرې کړې ناخوښه وئ، نو خپله باید خپل ځان جزایي کړئ. د دې لپاره چې له خپلو ټولو مالي پرېکړو خوښ وئ او نورې پر ځای پرېکړې وکړئ، اسانه لاره یې دا ده چې خپله مالي پوهه لوړه کړئ. که تاسو د خپلو پرېکړو لپار عملي ملاتړ نه لرئ، نو ښه ملاتړی مو بیا پر نورو باور، رسنۍ او هغه شایعات دي چې په بازار کې یې اورئ.

## اپل خپل نوي ایفونونه معرفي کوي

اپل کمپنۍ تېره میاشت خپل نوي ځیرک ساعتونه او آیپډ معرفي کړل، اوس غواړي څو له لږ ځنډ وروسته د یوې غونډې له لارې خپل نوي ایفونونه معرفي کړي. له دې وړاندې اپل کمپنۍ څو ځلې د کرونا نړیوالې وبا له امله د ایفونونو د معرفي کولو غونډه ځنډولې وه. اوس اپل کمپنۍ رسنیو ته د یوې پر لیکه غونډې کې د ګډون بلنلیکونه استولي دي. دغه بلنلیک کې د دې غونډې نېټه د اکتوبر ۱۳مه ښودل شوې ده او تر څنګ یې د غونډې ادرس او «چټک سرعت» لیکل شوی دی. د یادونې ده چې له څو میاشتو راهیسې د اپل د راتلونکو ځیرک موبایلونو په اړه مختلف راپورونه خپاره او معلومات افشا شوي، چې د دغو ځیرکو موبایلونو ډیزاین




او ټولې ځانګړنې یې په ډاګه کړې دي. دا هم ویل کېږي چې اپل کمپنۍ به سږکال په لومړي ځل یو ځای ۴ ایفونونه معرفي کړي. د اپل کمپنۍ د ایفون۱۲ لړۍ ځیرک موبایلونه به د دې کمپنۍ بایونیک۱۴ ډوله پروسېسر او ای او اېس۱۴ عامل سیستم سره خرڅلاو ته وړاندې شي.

عزیزي بانک
Azizi Bank
د ازي پې (AZIPAY) پرمختللې بڼه
عزیزي بانک خپلې د ازي پې بتوې ته پراختیا ورکړې چې تاسو ته پراخ خدمتونه او ګټې لکه: بایومتریک ننوتل-د ګوتې او مخ پېژندنې له لارې، څو ژبې (پښتو، دري او انګلیسي) کارول، د ډالرو کارونه، د صورت حساب او کوچنۍ سټېټمنټ لیدل، د صرافۍ خپلکاره ماشین څخه د ازي پې پرمټ د کارت پرته پیسې وېستل، د مبایل شمېرې ته پیسو استول او د د صرافۍ خپلکاره څخه یې ماشین ترلاسه کول، د مبایل شمېرې ته کریډیټ زیاتول، د بل اداینه او نورې برخې وړاندې کوي
مهرباني وکړئ نوې بڼه یې له ایسټور او پلې سټور څخه ډونلوډ (ښکته) کړئ، د لازیاتو معلوماتو لپاره 1515 شمېرې سره اړیکه ټینګه کړئ.
www.azizibank.af
1515

